د پښتونخوا ملي عوامي ګوند

مرام او دستور

پښتونخوا ملي عوامي ګوند(پارټي)

مرام
منل شوی
لَخوا
دَ
بنسټ پېنډي (کانګره)
۲۹ ، ۳۰ مارچ ۱۹۸۹ کوټه
او
ملي پېنډي (کانګره)
۲۹. ۳۰، ۳۱ جولايي ۲۰۰۲ کوټه
پښتونخوا ملي عوامي پارټي

مرام (منشور)

د انګرېزي ښکېلاک لويه موخه د نيمې وچې(برصغير) تر واک لاندي کول او د هغې د شتمنيو ولکه وه. د دغو ناوړه موخو لاس ته کولو لپاره يې له زور او جنګ، د «ځله بېل يې که نو يېل يې که»» له تګلارې، او بډو ځخه کار واخيستلو. د نيمې وچې هيواد پالو اولسونه او ملتونو له انګرېزي ښکېلاک سره سخته ډغره و وهله، خو دوی له يوه هسي دوښمن سره مخامخ ول چي د نوې درستې او پوځ ځښتن ؤ او په مکارۍ او چالاکۍ کښې يې ساری نه لرلؤ. ورو ورو انګرېز له ټول هندوستان ځخه خپله مستعمره جوړه کړه او ورسره يې هره خوا د لوټ او تالان جوړ کؤ. د هيواد پلورو ټوليو او پوځ په مرسته يې خپل واک و ساتلؤ او بل پلو يې همدغه پوځ له ملتونو ځخه د مرېيانو د جوړلو لپاره و کارولؤ.

د انګرېزي ښکېلاک دويمه موخه دَ افغانستان ولکه وه. دَ دغي موخې لپاره يې درې ځله په افغانستان باندي يرغل وَ کؤ، مګر زړَور افغان اولس هر ځل له شرمه ډکه ماتې ورکړه او دَ خپل هيواد ازادي يې وَ ساتله، خو بيا هم پرنګي له بېلابېلو پلمو او بهانو کار واخيستلؤ او دَ پښتنو دَ هيواد ختيځه برخه يې ولکه کړه او هغه يې دَ انګرېز په کار او واک کښې ګډه کړه.

په ولکه شوې (مستعمره) پښتونخوا کښې يې دَ چارو په اډانه کښې پښتون ملت نور هم ځله وَ وېشلؤ. دَ ولکه پښتونخوا په شمالي برخې يې دَ شمال مغربي سرحدي صوبې (N.W.FP) ،او جنوبي برخې يې دَ بريټيش بلوچستان ناسم او ناريښتيا نومونه کښېښودل. پردغه سربېره يې په ازادو پښتني سيمو او رياستونو په خپلواکۍ باندي يې په پرله پسې توګه يرغل روان وَ ساتلؤ. په دغه ډول يې دَ ښکېلاک دَ غچ اخيستنې په زور دَ پښتانه ملت دَ وَکر او پېژندګلوي دَ ورَکولو هڅې يې وَ کولې. پښتانه ملت په هر پړاو کښې ښکېلاک دوښمنه جنګ روان وَ ساتلؤ. مولوي عبد الرحيم پوپلزي، حاجي صاحب ترنګزي، باچاخان، کاکاصنوبر حسېن مومند، کاکاجي خوشال خان، خان عبدلصمد خان اڅکزي او نورو ډېرو بې شمېرو ځرګند او ناځرګندو ملګرو يې دَ پښتان ملت دَ يووالي او واک دَ بيا پر ځای کولو لپاره بې شمېره بلهارۍ (قربانۍ) ورکړې. دَ پشتنو او دَ نيمې وچې دَ ملتونو او اولسونو دَ بلهاريو په پايله کښې دَ انګرېز پښې وَ ختلې او کډې کولو ته اړ شؤ. دَ تګ په مهال پرنګي هغه بڼه بېرته پرځای نهٔ کړه ځنګه چي دَ دهٔ تر راتګ له مخه وه. بلکې دلته يې واک دَ ملت او ملت دَ ريښتونو استازو په ځای وَ هغو ته ورکؤ چي دَ دوی تالي ځټي او دلالان ول، او دَ ښکېلاک دَ ګټو ساتنديان ول. نو ځکه نوې واکمنې ټولۍ په بهرنۍ توګه له ښکېلاک سره لا هم تړلې پاته شوې، او په دننه کښې دَ ښکېلاک دَ لويو لويو جاګيردارانو، پانګه والو او پسپالَؤ ( ارتجاعي) ځواکونو ساتندوی جوړ شؤ. هغوی دَ زور زياتي او برلاسۍ هغه دَ ښکېلاک تګلاره روانه وَ ساتله په پاکستان کښې دَ مېشتو ملتونو له برابر و حقونو ځخه يې نټه (انکار) وَ کوله. او چا چي هم دَ دغه زور زياتي په چپه (خلاف) او دَ زيار کش اولس دَ حق لپار اواز اوچت کؤ نو هغه يې دَ ځپلو موخه کؤ.

واکمنو ټوليو دَ وفاقي ياويو (يونټونو) او دَ هغو دَ ځپلو لپاره او په هغو باندي دَ زور زياتي دَ روان ساتلو لپاره بېلا بېل ګامونه پورته کړل؛ دَ بېلګې په توګه، دَ دستور جوړونکې اسمبلۍ ماتول، په چل ول باندي دَ دويمې دستور جوړونکې اسمبلۍ رغول، دَ يوهٔ ياوي (ون يونټ) جوړول، دَ برابرۍ (پېرټي) دَ تش په نامهٔ

اصول په زور باندي تپنه، دَ ۱۹۵۶ دستور، دَ ۱۹۵۸ ایوبي مارشل لا، دَ ۱۹۶۲ ایوبي دستور، دَ ۱۹۶۹ یحیا خاني مارشل لا، دَ ۱۹۷۰ دَ چوڼ (انتخابات) له پایلو څخه نټه او پر بنګال باندي پوځي یرغل، دَ ۱۹۷۳ دستور چي دَ لاسبرو ټولیو په ګټه ؤ، څخه سترګې پټول، دَ ۱۹۷۷ ضیایي مارشل لا او دَ ۱۹۸۱ پي سي او ((P.C.O، ۱۲ اګست ۱۹۸۳ مارشل لا او تش په نامهٔ ریفرنډم، دَ مارچ ۱۹۸۵ ار سي او (R.C.O)دَ مارشلا دَ دستورسره سم دَ ضیایي دستوري فارمولې په کار اچول، دَ اکتوبر ۱۹۸۵ دَ دستوري ترمیم له لارې دَ ضیایي دستور دَ تش په نامه منل او نورو ګامونو څرګنده موخه یوازي او یوازي دَ واکمني ټولی لاسبری دَ تل لپاره ساتل او دَ پاکستان دَ ځپل شوي اولس او پښتون، بلوچ ، سیندي او سرایکي ملتونو دَ همېشنی سیاسي او ټولنیزې غلامی پرته بل هیڅ نه وه. دَ زور دَ دغسي کارونو په پایله کښې دَ پښتونخوا خاوره تر اوسه ټوټه ټوټه پرته ده. شمالي برخې ته یې دَ صوبه سرحد ناریښتونی نوم ورکؤ. بیا یې د جنوبي برخې تاریخي شتون بېخي ناشتون کؤ او دَ پښتونخوا او بلوچستان خاورې یې په غیرفطري توګه پله یوځای کړې او دَ بلوچستان غیرحقیقي نوم یې ورکؤ. او ختیځې برخې میاوالي عیساخېل او اټک یې په زور دَ پنجاب برخه ورګرځوله. په دې توګه یې دَ پښتانه یووالی ټوټه ټوټه کؤ او سیاسي واک یې ور ورک کؤ. دَ پښتونخوا دَ قدرتي زېرمو لوټ او تالان روان دی. دغه خاوره یې په لوی لاس وروسته پاته ساتلې ده او دَ پرمختګ ټولې لارې یې بندې کړې دي. دلته دَ اولس په خپلو زېرمو باندي هیڅ واک نشته، انجام یې دغه دی چي دغه اولس په ډېره بېوزلی، نېستی، ناپوهی او همېشنی اوزګارتیا کښې ګوزاره کوي.

دَ ښکېلاک دَ دغه ناروا اډانې له هیسته کولو پرته نه یوازي دَ پښتنو بلکې دَ بلوچو، سرایکیانو او سیندیانو په سیاسي، اقتصادي او ټولنیز ژوند کښې هم هیڅ ډول ښېګړه نهٔ شي راتلای. واکمنانو دَ خپلو ګټو او دَ خپلو ښکېلاکګرو بادارانو دَ ګټو لپاره نه یوازي دَ پاکستان مظلوم او محکوم اولس رالاندي کړی دی بلکې دَ هیواد خاوره دَ نړیوالو ښکېلاکګرو او زبېښاکګر ځواکونو دَ لوټ او تالان ځاله هم جوړه کړې ده او بیا دَ سپېڅلو چیغو او بې انصافه جنګ په پرده کښې دَ افغانستان ازادي، ملي خپلواکي، ملي واک، هیوادساتنې او ملي یووالي او دَ افغانستان دَ هیواد او دولت دَ ملي ادارو دَ تباه کولو لپاره یې دغه خاوره دَ افغانستان دَ ملي اولسي انقلاب په چپه (ضد) دَ نړیوالې ترهګری په اډه واړوله. دغسي اکر (حالت) پښتانهٔ دَ ژوند او مرګ په دولارې باندي وَ درول. تاریخ دوی هغه ځای ته راورسول چي لا خو دي دوی پله یو شي او دغې کړې دي سمې کي او دَ خپل شتون دَ ساتنې او یووالي لپاره دي هلې ځلې وَ کوي ،او یا بیا دي دَ تباهی هرکلي ته چمتو شي.

په دغسي اکر کښې دَ ټولو هیوادپالو، ملت پالو، پرمختیا پلَو او انقلابي ځواکونو لومړنی دنده وه چي پَله یو شي او دَ تباهی له دغه جبه زار څخه دَ پښتنو دَ را ایستلو لپاره دي هغوی هم منظم او پله یو کي، او په دغه لاره کښې دي دَ هغوی لارښوونه وَ کوي. نو ځکه پښتونخوا نیشنل عوامي ګوند (پارټي) او پښتونخوا مزدور کسان ګوند (پارټي) دَ دغې تاریخي شېبې په لوړوالي او اړتیا پوههٔ ول او پرېکړه یې وکوله چي په لومړي پړاو کښې یوه پراخه ټلواله جوړه کي. دَ ۲۶ اکتوبر ، ۱۹۸۶، دَ پېښور دَ اعلامیې له لارې یې دَ دواړو ګوندونو ګډ جوړښت، پښتونخوا ملي عوامي اتحاد، او دَ هغه موخې او تګلارې ډاګیزه کړې.

پښتونخوا ملي عوامي اتحاد په دغه ګردهٔ وخت کښې په ټول پاکستان کښې په ځانګړې توګه په پښتونخوا هیواد کښې په اولس او سیاسي کارکونکو کښې سیاسي پوهه او بیداري پیدا کړه او په دوی کښې یې دَ یووالي او باور جوش نور هم زیات کؤ. هغه بنسټونه یې نور هم پاخه کړل چي په دغو سختو شېبو کښې دَ یوهٔ غښتلي، ټینګ او دَ اولس په منځ ولاړ سیاسي ګوند دَ رغولو لپاره غوره او اړین بلل کیږي. نو ځکه په ۲۹ او ۳۰ مارچ ۱۹۸۹ په کوټه کښې بنسټیزې پینډې (کانګرس) پښتونخوا ملي عوامي اتحاد په یوه ګوند واړولؤ او دَ پښتونخوا ملي عوامي ګوند دَ رغولؤ تاریخي اعلان یې وَ کؤ.

له مارچ ۱۹۸۹ څخه بیا تر جولایي ۲۰۰۲ پوري چي په پاکستان، افغانستان، سیمه او نړی کښې کوم سیاسي اکر ؤ، ګوند په پاکستان کښې دَ مېشتو ملتونو دَ برابری او اولسي واکمنی په بنسټ دَ وفاقي اولسواکهٔ دستوري اډانې دَ رغونې، دَ ملتونو او اولس دَ سیاسي، اقتصادي او ژوند ژواک حقونو او واکونو دَ ګټولو، دَ افغانستان دَ ملي خپلواکی او ملي یووالي ساتندویه لویې جرګې دَ ملي سرکار جوړولو له لارې دَ امن راوستل، دَ سیمې او نړی دَ ملتونو او اولسونو دَ ملي خپلواکی، اولسواکی، ټولنیز انصاف، سولې او پرمختیا لپاره چي ګوند کوم له ویاړونو ډکه تګلاره او سریښتې خپلې کړې او دَ ښکېلاک دَ برلاسی، زور او زبېښاک، زورواکی ، فرقه ګری او ترهګری له ربړهٔ ډک اکر څخه دَ خپل اولس دَ ژغورنې لپاره کوم ګامونه اوچت کړي دي هغه دَ ۲۹، ۳۰، ۳۱ جولایي ۲۰۰۲ په کوټه کښې دَ پښتونخوا ملي عوامي پارټی دَ تاریخي پینډې په سیاسي او ګوندي رپوټ کښې بیان شوي دي.

که څه هم لاسبري واکمنان او دَ هغو زورواکې نوکرواکی (بیوروکرېسي) دَ اکتوبر ۱۹۸۵ دَ ضیایي مارشل لایي دستور په منځ دَ وفاقي پارلیمان او صوبایي اسمبلیو دَ واک په ولجه کولو او بیا وَ نیشنل سیکوریټي کونسل (په بنسټیزه توګه پوځي کونسل) ته دَ ورکولو موخې ته وَ نهٔ رسېدل، خو بیا هم دوی دَ اتم ترمیم او 58 (2) (B) مادې په منځ دَ پارلیمان او صوبایي اسمبلیو او دَ هغو دَ ټاکل شوي لومړي وزیر (چیف

ایګزیکټیو) او لوی وزیر (صوبای چیف ایګزیکټیو) او دَ هغوی دَ کابینې دَ لري کولو واک وَ یوهٔ کس (اولسمشر یا والي) ته په ورکولو کښې بریالي شول.

په دغه ډول دوی دَ ټاکل شوي پارلیمان او لومړي وزیر له خپلو لویو واکونو او دندو څخه بې برخې کولو کښې او دَ ټولو کورنیو او بهرنیو تګلارو جوړولو دَ واک په ولجه کولو کښې بریالي شول. په دې توګه زوارواکې نوکرواکۍ دَ هیواد دَ ریښتونو واکمنانو، په کروړونو اولس او تړواک لاندي ملتونو دَ ګټې او خوښې خو پرېږده، ان دَ ۱۹۸۵ ضیایي دستور دَ مادو (Provisions) په چپه (خلاف)، په ۱۹۸۸ سربېره، دَ ۱۹۹۰، ۱۹۹۳ او ۱۹۹۶ وفاقي پارلیمان، صوبایي اسمبلۍ وفاقي لومړی وزیر او صوبایي لوی وزیران دَ لاسبرو واکمنانو په ګټه دَ تګلارې جوړولو او بیا ترې کار اخیستلو لپاره یو په بل پسې هیسته کړل.

دَ زورواکې نوکرواکۍ دغو کارونو او تګلارو دَ هیواد سیاست، اقتصاد، ټولنه، ژواک، ګوا دَ ژوند هره برخه له ناورین سره مخامخ کړه.

مګر په پای کښې په ۴/۳ اپرېل ۱۹۹۷ دَ هیواد ۱۴ کروړه اولس او دَ هغوی (۶) کروړهٔ رایې ورکونکو دَ چوڼ شوي پارلیمان ټولو ګوندونو په یوه خوله دَ ۱۹۸۵ ضیایي دستور، او دَ هغه اتم ترمیم او 58 (2) (B) او نورې مادې هیسته کړې، او دَ هیواد وَ پارلیمان، صوبایي اسمبلیو، لومړي وزیر (وفاقي چیف ایګزیکټیو) او لویو وزیرانو (صوبایي چیف ایګزیکټیو) ته دَ ۱۹۷۳ دَ ولجه شویو واکونو په بېرته ورکولو کښې په مټکې (بمشکل) بریالي شول.

مګر زورواکې نوکرواکۍ بیا پلمه جوړه کړه او وارله واره یې په ۱۲ اکتوبر ۱۹۹۹ دَ ۶ کروړو رایې ورکونکو ټاکل شوی پارلیمان وَ ځپلؤ، څلورمه مارشل لا یې وَ لګوله، ټاکل شوي لومړي وزیر ته یې ړومبی ځولنې ورواچولې او بندي کؤ او بیا یې دَ هغه له نېکه بخته دَ زېندی یا ګولۍ په ځای له هیواده وَ ایستلؤ. دَ ۱۲ اکتوبر ۱۹۹۹ مارشل لایې واکمنې دَ نوي سیاسي جوړښت دَ تګلارې له یوې بشپړې ټابیا سره سم دَ اولسواکه پارلیماني وفاقي دولت دَ واک ولجه کولو او بیا دَ همېشنۍ مارشل لا زوراکې ادارې، نیشنل سیکیورټې کونسل، (چې یو پوځې کونسل دی) ته دَ ورکولو په لوري روان دې. هغوی په لومړي پړاوکښې دَ ضیاالحق په پله روان دی او نیشنل سیکیورټۍ کونسل یې جوړ کړی دی.

بل پلو په ۱۹۹۲ کښې دَ افغانستان دَ قانوني سرکار له ړنګېدلو سره په هیواد کښې پردۍ لاسوهنې، سختې کورنۍ جګړې، دَ فرقه ګرۍ عربو او نورو ځواکونو له یوې ټابیا سره سم دَ افغانستان ازادي، خپلواکي، یووالی، سوله او دولتي ادارې له ناورین سره مخامخ کړې.

په دغسې اکر کښې پښتونخوا مېپ دَ افغانستان دَ ټولو ستونزو یوازینی او اغېزناک هواری په تاریخ کښې ازمېیل شوې اداره (لویه جرګه) وَ بلله. او بیا دَ افغانستان کورني او بهرني اکرونه او عوامل منطقي انجام ته وَ رسېدل او دَ افغان ازادۍ پلؤ، هیواد پالؤ او او اولسواکو ځواکونو او ملګروملتونو یووالی یې وَ پېنځولؤ، هغه چې دَ امنیت جرګې دَ ۱۴ نومبر ۲۰۰۱ دَ پرېکړه لیک لاندي یې دَ ملګرو ملتونو په مرسته دَ ۵ دسمبر ۲۰۰۱ افغان بون جرګه لنډمهاله سرکار جوړ کؤاو هغه ته یې دَ افغان بون جرګې (کانفرنس) دَ پېنځو ټکیو ټابیا: دَ بېړنۍ لویې جرګې ټاکنه او رابلنه، دَ هغې په مټ د منځمهالي سرکار او دَ دستوري کمیشن رغونه، دَ دستور (اساسي قانون) سریښته او سپړنه، دَ دستور دَ پخلي لپاره دَ لویې جرګې ټاکنه او رابلنه، دَ دستور منل او دَ همدغه دستور په بنسټ دَ دولت ایګزیکټیو، قانون جوړونکو او نورو ادارو ټاکنې او جوړښت په مټ دَ ازاد، خپلواک، یوموټي، سوله ایز او اولسواکه افغانستان دَ جوړولو دنده ور وَ سپارل شوه.

دَ پښتونخوا ملي اولسي ګوند موخې

ګوند دَ لاندینیو موخو ګټل خپله بنسټیزه دنده ګڼي:

1. په ملک پاکستان او پښتونخوا کښې دَ پرتې زورواکې ښکېلاکګرې او زبېښاکګرې ټولنیزې او اقتصادي ادانې ورَکاوی او په ځای یې په انساني او اسلامي ستو ولاړې دَ ټولنیزې او اقتصادي ادانې روغونه، دَ نیواکګرو او ښکېلاکګرو هیوادونو دَ سیاسي، اقتصادي او ژواکیزې لاسبرۍ دَ ورَکاوي لپاره دَ ملتونو دَ خپلنیامت حق (حق خودارادیت) منل او په هیواد کښې دَ قومیتونو په بنسټ دَ وفاقي یاویو (صوبایي یونټونوجوړښت) او دَ دغو یویو تر منځ دَ برابرۍ په بنسټ دَ وفاقي پارلیماني ادانې رغونه، دَ جاګیرداری، سرداری، سرمایه داری او نوکرواکۍ د سیاسي واک ورَکول او په ځای یې دَ رنګ، توکم، دین، ژبې او جنس له توپیره پرته دَ زیارکش، اولسواکي پلوه، هیوادپاله، پرمختیا پلوه او نیواک دوښمنه اولس واکمنې، مانا دَ اولسواکۍ رغونه، او له مخې یې دَ زورګیره ښکېلاکګره، زبېښاکګره ټولنیزې او اقتصادي ادانې لرې کول او پر ځای یې دَ هیواد ازادي، دَ وفاقي یاویو تر منځ برابري، باور، اولسواکي، پرمختیا، سوله او دَ ټولنیز انصاف دَ انساني او اسلامي ستو په مټ ولاړې ټولنې رغونه، له قران او سنت سره په ټکر کښې په ټولو قوانینو باندي بندیز او ورکول.

2. (I) دَ ژبې، ژواک (پرهنګ) او تاريخ په بنسټ دَ وفاقي ياويو (صوبو) رغونه، په دغه لړ کښې شمالي پښتونخوا ( شمال مغربي سرحدي صوبه)، جنوبي پښتونخوا (په بلوچستان کشې پښتني سيمه) او ختيځې پښتونخوا (مياوالي، اټک او نورې سيمې) په ګډون دَ پښتنو له نامۀ سره سم پښتونخوا، پښتونستان، يا افغانيه، دَ يوۀ خپلواکه، يوموټې پښتون وفاقي يوې (صوبې) رغونه

(II) دَ ازادو پښتني ايجنسيو (منځنۍ پښتونخوا) دَ اوسني خپلواکه اکر ساتنه، او بيا يې اولس ته دَ بالغې رايې ورکونې په بنسټ دَ جوړو شويو خپلواکو سياسي ادارو دَ واک په مټ ټولنيزه بدلون او پرمختيا

(III) په بلوچستان کښې دَ منځني مهال لپاره دَ ژوند په هره برخه کښې دَ پښتانه او بلوچ تر منځ دَ برابرۍ په بنسټ دَ دستوري او تړونيزې اډانې رغونه، (Constitutional and conventional arrangements)

(IV) په ټول هيواد او په ځانګړې توګه په کراچۍ کښې دَ پښتنو دَ سياسي، اقتصادي او پرهنګي حقوقو او سر اومال ساتنه

(V) دَ خپلې خوښې او دَ برابرۍ په وفاق کښې دننه دَ دفاع، بهرنيو چارو، مواصلات او کرنسۍ باندې دَ دفاق او نورو ټولو محکمو او چارو باندې دَ صوبو واک

(VI) دَ هيواد په بهرنۍ تګلاره او بهرني تجارتي تګلاره کښې دننه وفاقي ياويو (صوبو) ته دَ بهرنۍ سوداګرۍ واک او انتظام

(VII) په وفاقي محکمو کښې چې کومې اداري تګلاره جوړوي او بيا پرې کارکوي، په هغو کښې دَ برابرۍ په بنسټ دَ صوبو استازيتوب، په دننه کښې دَ امن وامان او قانوچلولو لپاره صوبو ته بشپړه واک او بيا دَ هغه لپاره دَ تومني (Civil) وسله وال ځواک رغونه او بشپړه واک

(VIII) ژبه

پښتو، بلوچي، سندهي، سرايکي او پنجابي دي ملي ژبې وَ منلې شي، په خپلو خپلو وفاقي ياويو (صوبو) کښې دي سرکاري، پوهنيزې او ښوونيزې ژبې شي. په بلوچستان کښې پښتو او بلوچي سرکاري او ښوونيزې ژبې کول، په ټول پښتونخوا هيواد کښې دَ مېشتوژبنيو ډلو دَ ژبې او ژواک ساتنه

3 اولسواکي، ازادي او حقوق

(I) له هر ډول زورواکۍ او ټولنيزې زورګيرۍ او زبېښاک، فرقه ګرۍ څخه پاکه، يوه اولسواکه او په ټولنيزې برابرۍ ولاړې ټولنې لپاره دَ يوې اولسواکې او سياسي اډانې رغونه ، او په ښاري ازادۍ او بنسټيزو حقونو دَ بنديزونو ورَکول.

(II) دَ ښځو په چپه (خلاف) دَ ټولو توپيري قوانينو ورَکول

(III) دَ چاپ (پريس) په ازادۍ باندې دَ بنديز لګونکو دَ ټولو قوانينو ورَکول، دَ ورځپاڼې او رسالې په ډيکليريشن باندې دَ بنديز ورَکول، دَ چاپ دَ ازادۍ په لاره کښې دَ اشتهاراتو او کاغز دَ کوټې په خنډ بنديز

(IV) له ډويژن څخه بيا دَ ضلعې تر کچې پورې دَ ټولو انتظامي ياويو (يونټونو) ټاکل شوې پنچايت، جرګې، او انتظامي او عدلي رغونه او خپلواکي

(V) عدليه له انتظامي څخه بېلول او خپلواکي کول

(VI) سول سروس او نور ټول ماهرين به دَ ټاکل شويو ادارو تر لارښوونې او واک لاندې دَ اولس په چوپړ کې وي

(VII) دَ لېويز دَ اډانې ساتنه او په نويو اولسواکو بنسټونو باندې يې رغونه او دَ اړوندۀ ټاکل شوې انتظامې تر واک لاندې چوپړ

(VIII) دَ ژوند په هره برخه کښې دَ ټګۍ برګۍ، درغلۍ، سپارښت، خپلوان پالنې او هر ډول بډو په بشپړه توګه ورَکول

4 بهرنۍ تګلاره

(I) ريښتونې، ازاده ، مثبته او بېپرې بهرنۍ تګلاره

(II) له ګاونډيو هيوادونو، اسلامي هيوادونو، دَ دريېمې نړۍ هيوادونو، او دَ ګردې نړۍ له اولسواکه، پرمختياپلوه، انقلابي او سوله پالو هيوادونو سره دَ ملګرتيا اړيکي جوړول

(III) دَ توکمپالنې، فرقه ګرۍ، ښکېلاکي اډانې او نوي ښکېلاکي او سيهونيت غندنه او دَ ملي ازادۍ، اولسواکۍ، ټولنيز انصاف، سولې او پرمختيا دَ غورځنګونو ملاتړ.

(IV) دَ هيواد دَ ګټو په تاوان دَ ټولو تړونونو ماتول، او دَ نړۍ په ملتونو باندې دَ نړۍوالو مالي ادارو او ګڼ ملته کارپورېشنو دَ اقتصادي، سياسي او ټولنيز ې بَرم او برلاسۍ لرې کول او په سيمه کښې دَ دغسې ادارو دَ چوکيدارۍ دَ چاور ورَکول.

(V) په نړۍواله او سيمه ايزه کچه دَ ايټمي درستې (وسلې) بشپړه ورَکول او دَ نړۍوالې سولې لپاره دَ هلو ځلو ملاتړ

4 اقتصاد (چوڼچ)

(I) دَ جاګیرداری ورَکول، کرنیزه پرمختیا او دَ بزګرانو دَ ښېګړې لپاره دَ لویو لویو جاګیرداریو ورَکول، اغېزناکې کرنیزې سمونې او دَ مځکې منصفانه وېش چې بې مځکې اودَ لږ مځکې بزګرانو ته دَ مځکو ورکول او دَ بزګرانو دَ ښېګړو ساتنه هم پکښې ده.
(II) دَ شاملاتو ساتنه، او که چېري وېش وي نو هغه دي منصفانه وي
(III) په ناروا ولکې بندیز، کوچنیو ځښتنانو (مالکانو) ته دَ مالیې، ابیانې، دَ سرکار او بنک دَ پورونو بخښه، دَ هیواد او نړۍ په منډیو کښې کرنیزو اجناسو ته دَ ښو نرخونه، په اسانه توګه کیمیاوي سره، توخمونه، خسمان وژونکې درمل او دَ کرنې لپاره بې ټیکسه ماشینونه
(IV) دَ هر چا لپاره له ټولنیز مرېیتوب څخه ازادي، او دَ کمکیانو په مزدورۍ بندیز
(V) کشیانو ته روزګار برابرول، دَ مزد زیاتول، دَ کار اکر ښه کول او دَ استوګنې لپاره مځکه ورکول
(VI) په ټول هیواد او پښتونخوا کښې دَ خړوب، اوبه خور، کب نیونې، ځنګلونو، ورشوګانو، بوډګانو، ګرځندوی، کرنې او اړوند صنعت او سوداګرۍ د هراړخیزې پرمختیا لپاره په هیواد کښې دَ اوبو له اري (اصلي) سرچینې، دَ پښتونخوا پراخ ابي وسایل، څخه دَ کار اخیستلو لپاره دَ پونګې (ذخیره) جوړولو، وړو برېښناکوټونو او بندونو تابیا او کار اخیستنه.
(VII) دَ نوموړې تابیا دَ یوې برخې په توګه په لنډمهاله توګه دَ پښتونخوا هر کلي، بانډې او کاله ته دَ څېښلو اوبه، ګیس او ټیلیفون ورکول
(VIII) دَ برېښنا، ګیس، ټیلیفون او نورو اولسي اسانتیاؤ دَ ناروا نرخونو ورَکول او پر ځای یې دَ اولس دَ ښېګړې لپاره دَ سمو نرخونو فارموله
(IX) دَ ټول هیواد او پښتونخوا دَ زمرودو، الماسو، غمیانو او نورو ګرانو کانڼؤ، مرمرو، سکرو، کروم او نورو کانې وسایلو او قدرتي ګیس او تېلو دَ زېرمو لټون، صنعت او سوداګرۍ لپاره یوه ځانګړې، هراړخیزه او پرله پوري تابیا او په هغې باندي کار کول
(X) دَ کالاباغ بند دَ تابیا دَ همېشه لپاره ورَکاوی
(XI) دَ ټول هیواد او پښتونخوا هر کلی او بانډه له سیمه ایزو منډیو سره ، او بیا نومَوړې منډۍ له ښارونو او له بهرنیو هیوادونو سره دَ نښلولو لپاره دَ نویو سړکونو، رېل، ټیلیفون او ټیلیګراف یوه هراړخیزه او پرله پوري تابیا او په هغې باندي کار کول، او دَ یوې برخې په توګه له سیوۍ څخه دَ هرنایي، شاهرګ، بوستان – کوټۀ، بوستان - ژوب، ټانک بیا تر پېښوره پوري دَ رېل لیکې ژر تر ژره رغونه.

## صنعت

(XII) دَ دلالې پانګوالۍ مخنیوی او دَ ګڼ ملتۀ شرکتونو دَ اجاره دارۍ ورَکول
(XIII) دَ هیواد او پښتونخوا دَ صنعت ملاتړ او ساتنه
(XIV) دَ واړۀ صنعت او وړې سوداګرۍ ساتنه
(XV) دَ پبلک سیکټر تر لارښوونې لاندې دَ پبلک سیکټر او پرایوېټ سیکټر تر منځ تولـه
(XVI) دَ نړۍوالو مالي ادارو او ګڼ ملته شرکتونو دَ هغو ګرو (شرایط) ورَکول چې د هیواد دَ صنعت، کرنې او سوداګرۍ په لاره کښې خنډ ګرځي
(XVII) تر یو لک پوري په ګټې باندي مالیه (انکم ټیکس) نه اخیستل، دَ وړو صنعتکارانو او سوداګرو لپاره ټاکلې مالیه، دَ تیرنۍ (کسټم ډیوټي) دَ پېچلې اډانې په ځای ساده، له پیداواري توان سره سمه ایکسایز ډیوټي
(XVIII) دَ سود بېخي ورَکول
(XIX) دَ ګردو مزدور دوښمنه قوانینو ورَکول، دَ مزدورانو دَ حقوقو، ښېګړو او کارګري سازمانو جوړولو دَ حق ساتنه، دَ ای ایل او (I.L.O) له تړون سره سم دَ مزدوانو دَ حقوقو ساتنه، دَ مزدورانو تنخا لږ تر لږه دَ یوې تولې سروزرو برابرول

## 6 کار، پوهنه، روغتیا، استوګنه

(I) کار، روغتیا، پوهنه او استوګنه بنسټیز حق بلل او بیا یې قانوني ساتنه کول
(II) په ماده (۵) کښې دَ نوموړې تابیا شوې اقتصادي پرمختیا پر بنسټ ژر تر ژره دَ همېشه لپاره دَ اوزګارتیا ورَکول. تر هغه وخته پوري هر بالغ اوزګار کس ته دَ اوزګارتیا الاونس.
(III)
دَ ښؤونکو، ډاکټرانو، اینجینرانو او دَ ټولو کم تنخا سرکاري او ناسرکاري کارکونکو دَ روا غوښتنو منل

## پوهنه

(I) دَ پوهنې دَپوړیزې (طبقاطي) اډانې بشپړه ورَکاوی، دَ پوهنې په ټولو ادارو کښې یو ډول ښؤونه
(II) تر لسمه پوري زورَکي (جبري) او بې پیسو زدکړې، او لوړې زدکړې مفتې، له لاندې څخه تر لوړو

زدکړو پوري دَ ښېټوپيره ښوونيزو اړتياؤ، خوړؤ، کاليو، استوګني او لېږد رالېږد برابرول دَ سرکار په غاړه دي.

(III) ساينس او تيخنيک پوهني ته ځانګړي پاملرنه، تر لسمه پوري دَ بنسټيزي تيخنيکپوهني زورَکي کول. دَ مالوماتي تيخنيکپوهني په نصاب کښي اچول.

(IV) دَ هر ډول پوهني او هونر دَ زده کولو په لاره کښي دَ ټولنيزو او اقصادي خنډونو او دَ ادارو دَ کمي خنډونو لري کولو لپاره دَ لوړو زدکړو نوري اداري جوړول چي اوسنۍ او ګانده اړتياوي هم پوره کي

(V) پوهني ته ځانګړي شوي پيسي زياتول او دَ درغلۍ او زيان مخنيوی، په ښوونځايونو کښي دَ ناسوبو (غيرحاضر) ښوونکومخنيوی او دَ کاغزي ښوونځو ورَکول او دَ پوهني په ادارؤ کښي دَ لوړ معيار راوستل.

(VI) په ازموينه کښي دَ ناروا څېزونو په کارولو بنديز او دَ هغو دَ بنسټيزو لاملونو ورَکول

(VII) دَ ښوونکو او نورو کارکونکو په تنخا، استوګني او نورو اسانتياؤ کښي زياتوالی.

8 روغتيا او درملنه

(I) د روغتيايي ادارو، روغتونو او روغتياځايونو تر يوې اډانې لاندي، په هر تحصيل، سب تحصيل او ښارونو کښي دَ يوۀ څرګند مرکز په اوېچه کښي دَ وګړو دَ شمېر له اړتياؤ سره سم، په هر ډول سامان، درملؤ، پوهو ډاکټرانو او نورو ماهرينو، بسترو او موټرونو پوره دَ يوۀ ټاکلي معيار دَ روغتون رغونه، او همدارنګه په کليو او بانډو کښي، او يا په يوۀ ځای په څو کليو او بانډو کښي دَ وګړو د شمېر او اړتياو سره سم دَ يوۀ روغتياځای رغونه.

(II) دَ بودَګانو دَ درملني لپاره د روغتيايي ادارو تر همدغسي يوې اډانې لاندي، په هر تحصيل، سب تحصيل او ښارونو کښي دَ يوۀ څرګند مرکز په اوېچه کښي دَ وګړو دَ شمېر له اړتياؤ سره سم، په هر ډول سامان، درملؤ، پوهو ډاکټرانو او نورو ماهرينو، بسترو او موټرونو پوره دَ يوۀ ټاکلي معيار دَ روغتون رغونه، او همدارنګه په کليو او بانډو کښي، او يا په يوۀ ځای په څو کليو او بانډو کښي دَ وګړو د شمېر او اړتياو سره سم دَ يوۀ روغتياځای رغونه.

(III) په نوموړو سرکاري روغتونو او ادارو کښي بې پيسو درملنه او درمل

(IV) دَ روغتيا او درملني لپاره په اوسنيو ځانګړي شويو پيسو او وسايلو کښي زياتوالی او په هغو کښي دَ درغلۍ او زيان ورَکول، او دَ روغتيا په ادارو کښي دَ لوړ معيار راوستل

(V) ګوزڼ (پوليو) او دَ کمکيانو نوري ناروغۍ، او دَ زېړو تبو (مليريا) او دغه ډول دَ نورو ناروغيو دَ بشپړه ورکاوي لپاره دَ اوسنيو هلوځلو نور اغېزناکولو لپاره دَ هغو نور پراخول او منظمول، دَ نري رنځ، ژړي او وبايي رنځونو دَ مخنيوي لپاره اغېزناک ترين ګامونه اخيستل او په هر روغتون کښي دَ نري رنځ او ژړي رنځورانو ته بې پيسو لاربښوونه او دَ نوي ترينو درملو بې پيسو ورکړه

(VI) په سرکاري روغتونو کښي دَ کارکونکو ډاکټرانو په خاني کار (پرايوېټ پريکټس) باندي بنديز

(VII) دَ نشو (املونو) بشپړه ورکاوی

(VIII) هر کالۀ ته دَ څښلو دَ پاکو اوبو دَ رسولو لومړيتوب

(IX) دَ هر ډول ملاوټ ورکاوی

(X) دَ شَمروالو (ګټَورو) ښځينه ژويو (حيواناتو) په حلالو بنديز

(XI) دَ ځنګلي ژويو او مرغانوپه ساتلواو ښکار باندي اغېزناکه بنديز

9 استوګنه او سرپناه

دَ استوګني دَ کورونو دَ کمي دَ پوره کولو لپاره به يوه تابيا وَ شي چي اوسنۍ او ګاندۀ اړتياوي دواړه پوره کي. دَ هغو کورنيو لپاره چي له سرپنا بې برخې دي دَ لومړيتوب په بنسټ دَ کور رغوني لپاره دَ بې پيسو او وړيا مځکي ورکړه دَ سرکار په غاړه ده. خامي استوګني (کچه ابادۍ) به په خپل ځای پرېښودل شي. دَ کوررغوني لپاره به په اسانو کشتونو باندي بې سوده پور ورکړ شي.

دستور (ايين )
منل شوی
لَخوا
د
بنسټ پينډي (کانګره)
۲۹ ، ۳۰ مارچ ۱۹۸۹ کوټه
او
ملي پينډي (کانګره)
۲۹. ۳۰، ۳۱ جولايي ۲۰۰۲ کوټه
پښتونخوا ملي عوامي (ګوند) پارټي

دستور

پښتونخوا ملي عوامي ګوند (پارټۍ) دَ ګران هیواد دَ اولس تر ټولو ړومبنی ګوند او دَ دوی دَ سیاسي اوډون (تنظیم) لوړترین جوړښت دی، چې دَ هیواد دَ زیارکش، اولسواکۀ، پرمختیاپلوۀ او هیوادپالۀ اولس دَ مخورو او بیدارو استازو دَ خپلې خوښې په یووالي او ملګرتیا باندي ولاړ دی، او دَ ګران هیواد او دَ هغه دَ زیارکش، اولسواکۀ، پرمختیا پلوۀ، او هیوادپاله اولس او دَ دوی دَ ښېګړو ساتنه او استازیتوب کوي.

زموږ ګوند چې دَ ریښتونو هیوادپالو یو ریښتونی او ویسا اوډون (تنظیم) دی او دَ ګران هیواد دَ ازادۍ، خپلواکۍ، پیاوړتیا، خوندیتوب او دَ هغه دَ ریښتونو دولتي او هیوادي ښېګړو ساتنه کوي، نوځکه دَ خپلې رغاونې، ساینسي نړۍوال لید او هیواددوست خوی له امله دَ روڼ اندي او پرمختیاپال، نافرقه ګر، اولسواکه، ملي ازادۍ، ټولنیز انصاف او سولې او پرمختیا دَ نړۍوال غورځنګ یوه برخه دی؛ او خپلو کارکونکو ته دَ هیوادپالنې، انساني او اسلامي برابرۍ او انټرنیشنلزم دَ نه وېشل کېدونکې جذبې روزنه ورکوي.

لومړی څپرکی

۱ دَ ګوند نوم، مرکزي دفتر او جنډه

۱ دَ ګوند نوم، پښتونخوا ملي عوامي ګوند دی.

۲ دَ ګوند مرکزي دفتر په کوټه کښې او یا چرته چې مرکزي کمېټۍ وَغواړي هلته به وي.

۳ دَ ګوند جنډه به وَبله پسې سور، سپین او زرغون رنګ لري. دَ درو واړو رنګونو اوږدوالی پرله برابر دی. اوږروالی یې دَ برۀ دوه برابره دی. په سرۀ رنګ کښې یې دَ ځوړندولو لپاره ځای شته او دَ سپین رنګ په منځ کښې یې پینځۀ کونجه ستوری دی. سور رنګ دَ زیار او هلوځلو، سپین دَ سولې، او زرغون هغه یې دَ خوښالۍ ښکارندوی دی. ستوری دَ مخکښۍ نخښه دی.

۴ دَ ګوند دَ مزدورانو، بزګرانو، زیارکشانواو نورو هیواپالو، اولسواکو ، روڼ اندو او پرمختیاپلوۀ ډلو دَ ټولنیزو سازمانونو جنډه به همدغه دَ ګوند جنډه وي، چې په منځ کښې به یې دَ هر سازمان دَ پېژندګلوۍ خپله نشان وي.

۲ دَ ګوند غړیتوب

I دَ ګوند غړیتوب لپاره لاندینۍ ګړې (شرطونه) دي:

الف دَ ګران هیواد اوسېدونکی دي وي، هره ژبه چې وایي، او که څه هم له هیواده بهر استوګن وي.

ب تر اتلسو کالو کم نۀ وي

ج دَ ګوند له موخو، ارمانو، مرام او دستور سره جوړ وي او دَ ترلاسه کولو کښې هلې ځلې وَ کوي.

د دَ ګوند په کوزني سازمان کښې وي او په هغه کښې پیاوړی کار کوي، دَ ګوند په پرېکړو کار کوي او دَ هغه وایه (ډسپلن) مني

ر دَ غړیتوب شلاوڼ (چنده) ورکوي

س دَ کومې بلې سیاسي ډلې غړی نه وي

II

الف دَ ګوند غړیتوب غوښتونکي په ځاني یا ډلَیزه توګه دَ ګوند دَ اړوند لومړني سازمان دَ نومول شوي غړي یا غړیو په مخکښې په ګوند کښې خپل ګډون ډاګیزه کوي او دَ دغه غړي یا غړیو له منلو پسته دَ ګوند غړي جوړیږي.

ب هر ګوندي غړی دَ اړوند لومړني ګوندي سازمان په لارښونه دَ سیاسي زدکړې او روزنې تر ړومبنې پړاو تېریږي. په دغه ړومبني پړاو کښې، هغوی دَ رایې ورکولو، ټاکلو او ټاکل کېدلو حق نۀ لري. پرته له دغه دَ دوی او دَ نورو غړیو حقونه او دندې برابرې وي. دوی دَ ګوند په غونډو کښې سلا ورکولای شي.

ج دَ هر ګوندي غړي دَ ړومبنۍ روزنیز پړاو څخه په بریالیتوب راوتلو پرېکړه دَ اړوند لومړني ګوندي سازمان غړیو په غونډه کښې له منلو وروسته او تر هغه لوَړې ګوندي کمېټې له پخلي وروسته کیږي. بیا نو دوی دَ رایې ورکولو، ټاکلو او ټاکل کېدلو حق هم لري. که دغسي وَ نۀ شي، نو دَ دوی روزنیزه پړاو روان اوسي. مګر مرکزي کمېټه واک لري چې یو کس یا کسان له روزنیز پړاو څخه پرَته (مټتثنی) وَ بولي.

د دَ ګوند دَ غړیتوب مهال له هغې نېټې پیلیږي په کومه ورځ چې دَ اړوند سازمان نومول شوي غړي یا غړیو دَ غه غړیتوب وَ منلۀ.

III ګوندي غړیوته دَ غړیتوب پاڼې ورکول او وېشل به دَ مرکزي کمېټې یا دَ هغې ګوندي ادارې په غاړه وي چې مرکزي کمېټې په دغه اړوند جوړه کړې وي.

۳ دَ ګوندي غړي حقونه او دندې

I دَ هر ګوندي غړي دنده ده چې دَ ګوند تګلاره وَ مني او ورکړ شوې دندې په ښه توګه پوره کي. دَګوند لوی مرام او روان سیاست (دَ سټراتیجي او تاکتیکي تګلارې) او پرېکړې دي خورې کي او دَ هغو دَ پوره کولو لپاره دي هلې ځلې وَ کوي او دَ اولس دَ چوپړ لپاره دي هر وخت چمتو اوسي.

II په نورو او په ځان نیوکې کولو لاره دي خپله کي او تېروتنې او نیګړتیاوې دي تل دَ بنسټیزو نیوکو په مرسته ورَکې کي.
III دَ ګوند هر غړی حق لري چي دَ اړوندو ادارو په ناستو کښې په ټولو چارو باندي بشپړه وراسه (بحث) وَکوي او په یوهٔ عهده دار باندي رغنده نیوکې وَکوي، او دَ ګوند تر ټولو لوړې ادارې پوري خپل وړاندیزونه او رایې وروَ رسوي. له هغو ګوندي غړیو پرته چي تر روزننیز پړاو تېرېږي، نور ټول غړي حق لري چي دَ ګوند په چوڼ (انتخاباتو) کښې برخه واخلي.
IV دَ ګوند په ناستو او خپرنیو (مطبوعات) کښې تر هغه مهاله پوري دَ ګوند په سیاست او کاروایيو دَ ستونزو دَ هواري په اړوند دَ کاري ګډون او خپل وړاندیز وړاندي کولو حق لري ترڅو چي دَ نومَوړې ستونزې په اړه دَ ګوند اړوند سازمان او ادارو پرېکړه نهٔ وي کړې.
V هغه غړي ،چي دَ ګوند په مرام او دستور باندي ولاړ وي، مګر موخې ته دَ رسېدلو په کاري تګلارو باندي دَ ګوند له پرېکړو سره جوړ نهٔ وي، باید لاندینیو ټکیو ته پام وَ کوي:
الف دوی دَ ګوند اړوندو ادارو په ناستو کښې دَ اختلاف حق لري. مګر دَ دغه کار لپاره دوی له چاپ او اولسي غونډو څخه کار نهٔ شي اخیستلای. او نهٔ هم په یوهٔ یوهٔ کس باندي دَ خپلې رایې دَ منلو لپاره لاره هوارولای شي.
ب په ګوند کښې دَ ډېري په خوښه (رایه) چي کومې پرېکړې کیږي هغه به منل کیږي. مګر دوی دَ اړوندو ادارو په ناستو کښې دَ دغو پرېکړو دَ اړولو هڅه کولای شي.
۴ دَ ګوند سازماني اصول
I دَ ګوند سازماني بنسټ اولسواک مرکزیت (Democratic Centralism) دی، چي لاندینۍ برخې لري:
الف دَ ګوند دَ هرې کچې مخورې ادارې په اولسواکه توګه ټاکلې کیږي.
ب دَ ګوند دَ هرې کچې مخورې ادارې په ټاکلي وخت کښې دَ اړوند سازمان په جرګه یا دَ ټولو غړیو په غونډه کښې لوړو مخورو ادارو ته دَ خپل کار په اړه رپوټ ورکوي.
ج ورسره ټول ګوند تر سریښتې (نظم) لاندي راوستل دَ ګوند دَ پایښت او پرمختیا لپاره اړین دي. نو ځکه دَ ډسپلن له دغه لوړې ستې څخه کار اخیستل کیږي: کس سازمان ته ورځي. لږکی ډېري ته ورځي. دَ لاندي کچې سازمان او اداره دَ لوړې کچې دَ سازمان اوادارې ته ورځي او ټول ګوند په مرکزي کمېټۍ او مرکزي کمېټۍ په ملي جرګې (قومي کونسل) او ملي جرګه ملي پېنډې ته ورځي.
II دَ پښتونخوا ملي عوامي ګوند سازماني جوړښت په لاندیني ډول دی:
الف پښتونخوا ملي عوامي ګوند (پاکستان)
ب پښتونخوا ملي عوامي ګوند جنوبي پښتونخوا (بلوچستان)
ج پښتونخوا ملي عوامي ګوند شمالي پښتونخوا (این. ډبلیو. ایف. پي)
د پښتونخوا ملي عوامي ګوند صوبه سندهـ
ر پښتونخوا ملي عوامي ګوند صوبه پنجاب
س پښتونخوا ملي عوامي ګوند یورپ (یو. کې)
ش په همدې توګه په هره ضلع، سیمه، او لومړنی یوی خپل خپل نومونه لري
III دَ ګوندي غړیتوب بنسټ او ګوندي یاویو (یونټونو) بریدونه دَ هیواد دَ انتظامي وېش، او استوګنې او کار دَ ځایونو له ستو(اصولو) سره سم جوړیږي. دَ بېلګې په توګه، په یوې کارخانې کښې لومړنی ګوندي سازمان دَ ګوند دَ غړیو دَ کار له اوېچې سره سم جوړیږي. او بیا دغه لومړنی ګوندي سازمان دَ هیواد دَ انتظامي وېش سره سم په سیمه ایز، ضلعي او صوبایي ګوندي سازمان کښې ځایول کیږي.
VI هر ګوندي سازماني یاوی (یونټ) تر هغو سازماني یاویو لوړ یو سازمان دی چي دَ دهٔ برخې وي.
V
الف دَ ډله ایزې مخکښۍ اصول، دَ ګوند دَ لاربښوونې هغه لوړ اصول دی چي دَ ګوند ټول سازمانونه او مخورې اداره یې هرومرو مني.
ب دَ ډل ایزې مخکښۍ ستې (اصول)، دَ ګوندي غړي دَ خپل کار تر سره کولو ځاني دنده نه کموي.

دویم څپرکی
دَ ګوند اوډون (تنظیم) او لاربښودې اداري
I دَ ټول ګوند لوړترینه مځوره اداره ګوندي ملي پېنډې (کانګرس) او دَ هغه لَخوا ټاکل شوې ملي جرګه، او دَ ملي جرګې لَخوا ټاکل شوې مرکزي کمېټۍ دي.
II دَ صوبايي ګوندي سازمانونو مځوره ادارې صوبايي ګوندي جرګه یا دَ صوبايي ګونددَ عامو غړیو غونډه او دَ هغو لَخوا ټاکل شوې صوبايي جرګه (صوبايي کونسل) او دَ صوبايي جرګې لَخوا ټاکل شوې صوبايي

کمېټې.

III دَ ضلعې او سيمې ګوندي سازمان او لومړني ګوندي سازمان مځورې اداري دَ اړوند کچې ګوندي جرګې يا دَ عامو غړيو غونډې دي.

IV ملي جرګه دَ خپلې مرکزي کمېټې او ملي ايګزيکټيو جرګې چوڼ (انتخاب) کوي

V صوبايي جرګه، دَ صوبايي ګوندي کمېټې او صوبايي ايګزيکټيو جرګې چوڼ (انتخاب) کوي

VI دَ ضلعې او سيمې ګوندي جرګه يا دَ عامو غړيو غونډه دَ اړونده ګوندي کمېټې او اړونده ګوندي ايګزيکټيو جرګې چوڼ (انتخاب) کوي

VII دَ لومړني ګوندي سازمان دَ عامو غړيو غونډه دَ خپلې اړوندې ګوندي کمېټې او ايګزيکټيو جرګې چوڼ کوي

VIII دَ ګوند يو پارليماني بورډ او يوه پارليماني ډله شته.

IX ګوند يو انتخابي کميشن لري.

درېيم څپرکی

I دَ مرکزي سازمان مځورې اداري او دَ هغو واکونه او دندې:

ملي پېنډه (کانګرس)

الف دَ پارټۍ پېنډه کم تر کمه په درو کلو کښې يو ځل رابلله کيږي. په ځانګړو اکرونو کښې دَ مرکزي کمېټې له پرېکړې سره سم تر وخت له مخه رابلله کېدلای شي او يا هم ځنډوله کېدلای هم شي.

ب دَ هغه ګوندي غړي چي دَ سياسي ژدګړې او روزنې تر لومړي پړاو په برياليتوب تېر شوي وي، دَ دوی ټولو له درو څخه دوه برخې ډېری غړي ځانګړې پېنډه (کانګره) راغوښتلای شي.

ج دَ پېنډې رابلنه او دَ هغې اجنډا پکارده چي تر ټاکلې نېټې کم تر کمه درې مياشتې لَمخه ډاګيزه شي. دَ پېنډې جوړېدا دَ ټول ګوند دَ رايې ورکونکي غړيو لَخوا دَ ټاکل شويوکم تر کمه دَ نيمايي استازو په شتَوالي کښې سمه ګڼله کيږي.

د پېنډه دَ ملي جرګې رپوټ اوري، او په هغې باندي له ورسې (بحث) کولو وروسته پرېکړه کوي.

ر پېنډه دَ ګوند په مرام او دستور کښې دَ ترميم او بدلون کولو روايښت لري.

س پېنډه دَ ګوند ګانډه (اينډه) لار ليکه ټاکي.

ش پېنډه دَ نوې ملي جرګې دَ غړيو شمېر ټاکي او دَ هغو چوڼ (انتخاب) کوي.

ص په پېنډه کښې دَ ملي جرګې له چوڼ څخه وروسته ، چټک دَ ملي جرګې غونډه کيږي چي په هغې کښې دَ مرکزي کمېټې او ملي ايګزيکټيو کونسل چوڼ ترسره کيږي.

ض دَ ملي جرګې سروال (چيرمين) په ملي جرګې کښې دَ نورو لسو غړيو چوڼ هم کولای شي. دَ ملي ايګزيکټيو کونسل سروال دَ جرګې سروال هم وي.

II ملي جرګه

الف دَ دوؤ پېنډو تر ميان وخت کښې ملي جرګه (قومي کونسل) دَ ګوند ترټولو هسکه اداره وي.

ب ملي جرګه دَ پېنډې دَ رابلنې پرېکړه کوي، دَ رايې ورکونکو غړيو په پرتلنه (تناسب) دَ پلاويؤ دَ شمېر او دَ هغو دَ چوڼ ډول او دَ بېلابېلو صوبايي سازمانو دَ استازيتوب ډاګيزوي.

ج ملي جرګه دَ ګوند په مرام، برنامې او دستور کښې ترميم، بدلون او ړنګولو (تنسيخ) روايښت لري، چي دَ ملي جرګې په دوديزه بشپړه غونډ يا ځانګړې بشپړه غونډه کښې دَ سوب (حاضرو) غړيو په درو کښې دوه ډېري يې کوي.

ملي جرګه دغه واک مرکزي کمېټې ته ورکولای شي او هغه ترميم، تبديلي، يا ړنګونه (تنسيخ) به دَ جرګې په ګانده غونډې کښې پخلي (توثيق) ته وړاندي کړ شي. بل دا، دغه ترميم، بدلون يا ړنګونه به دَ ملي جرګې لَخوا پخلي يا ړنګوني پوري دَ کار کولو جوګه وي.

س دَ ملي جرګې پکار ده چي په کال کښې کم ترکمه يوه غونډه وَ شي، چي دَ سروال (چيرمېن) لَخوا به رابلله کيږي. پردې سربېره، دَ مرکزي کمېټې دَ ډېري په رايو يا دَ ملي جرګې دَ غړيو په پينځو کښې يوې برخې (5/1)، يا له يوې صوبې څخه دَ ملي جرګې دَ ټولو غړيو په ليکلې غوښتنه، سروال يا جنرل سېکرټر په يوه مياشت کښې دننه دَ پينځلسو ورځو په نوټس رابللای شي، او اجنډا به يې هم له نوټس سره يوځای دَ ملي جرګې غړيو ته ورلېږله کيږي.

ش دَ ملي جرګې دَ بشپړه غونډې کورم دَ غهده دارانو په ګډون، دَ ټولو غړيو په څلورو کښې يوه برخه (4/1) وي.

ملي جرګه دَ سوبو (حاضرو) غړيو په ساده ډېري خپل غړي له غړيتوب څخه لري کولای شي.

خو دَ عهده دارنو يا غړيو دَ دغه ډول ايستلو لپاره دَ دوديزې يا ځانګړې بشپړه غونډې کورم دَ غړيو له درو څخه دوه برخه (3/2) وي. ځانګړې بشپړه غونډه دَ جرګې په درو کښې يوه برخه (3/1) په ليکلې غوښتنه

په دوؤ میاشتو کښې دننه او دَ یوې میاشتې په نوټس رابلله کيږي. دَ ملي جرګې ساده ډېرى دغسي خوځښت (تحريک) راوستلای شي.
ض ملي جرګه دَ کښته کمکيو کمېټو ګومارنه کوي او واکونه يې ټاکي.
ط ملي جرګه دَ ګوند چوڼ (انتخابات) او دَ خپلو کښتنيو ادارو لپاره لارې او ليکې جوړولای شي.
ظ ملي جرګه دَ ګوند دَ موخو او ارمانو دَ پوره کولو لپاره دَ ګوند دَ اوډون، او نظم او دَ ورځنيو کارونو په اړوند ټول واکونه کارولای شي.
ک ملي جرګه دَ ټولو اسمبليو، سېنټ، او نورو ادارو دَ چوڼ لپاره دَ هلو ځلو دَ څارنې او خپراوي (پروپېګنډه) دنده په غاړه لري.
ګ پارليماني ډله دَ ملي جرګې تر لارښوؤنه لاندې کار کوي.
ل دَ کلنۍ بوديجې دَ رپوټ، حساب کتاب او دَ هغه دَ رپوټ دَ تياري او منلو ته دَ وړاندي کولو کار هم ورپه غاړه دی.

III مرکزي کمېټۍ

الف مرکزي کمېټۍ، دَ ملي جرګې دَ غونډو په ميانه وخت کښې دَ ملي جرګې لَخوا دَ ګوندي غړيو دَ ټولو چارو څارنه کوي او وَ ملي جرګې ته ځواب وايي.
ب دَ مرکزي کمېټۍ دَ غړيو شمېر دَ ملي جرګې لَخوا ټاکلی کيږي، چې پکښې دَ ملي ايګزيکټيو کونسل غړي او صوبايي صدر او سيکرټر دَ خپلې عهدې له امله وي.
ج دَ مرکزي کمېټۍ دوديزې بشپړې غونډې کورم دَ کمېټۍ دَ غړيو نيمی وي.
د وخت نا وخته، مرکزي کمېټۍ په خپله دَ خپلو غړيو شمېر، په هغه کښې دَ صوبايي استازو ګومارنه او په مرکزي کمېټۍ کښې دَ نويو غړيو اچول، دَ سوبو (حاضرو) غړيو دَ ډېري په رايه کولای شي، چې دَ پخلي لپاره به دَ ملي جرګې په ګانډۀ (اينده) غونډې کښې وړاندي کړ شي.
ر کم تر کمه په درې مياشتې کښې به دَ مرکزي کمېټۍ يوه غونډه کيږي، چې ورله دَ اوؤ ورځو نوټس او دَ اجنډا ډاګيزول اړين دي. مګر ځانګړې غونډه دَ اته څلوېښتو ګنټو په نوټس رابلله کېدلای شي، چې دَ پرېکړو پخلی به يې دَ مرکزي کمېټۍ په دوديزې بشپړې غونډې کښې اړين وي.
ز دَ مرکزي کمېټۍ دَ ګردو غړيو په څلورو کښې يوه (4/1) ځانګړې غونډه رابللای شي، خو په دغه ګره (شرط) چې دَ هغې خبر، چې دَ غونډې دَ رابللو موخه هم پکښې ليکل شوې وي، جنرل سيکرټر ته کم ترکمه پينځلس ورځې لَمخه ورکړ شي.
س مرکزي کمېټۍ دَ ګوند ترټولو هسکينه انتظامي اداره ده
ش مرکزي کمېټۍ دَ ګوند او دَ هغه دَ بېلابېلو ټولنيزو سازمانو دَ ټولو سياسي او سازماني چارو لارښوؤنه کوي.
ص مرکزي کمېټۍ دَ خپلو غړيو په درؤ کښې دوؤ برخه غړيو په ډېري خپل غړي دَ کمېټۍ له غړيتوبه لرې کولای شي.
ط مرکزي کمېټۍ له شپږم څپرکي سره سم تاديبي کاروايي کوي.
ظ مرکزي کمېټۍ دَ ټولنيزو سازمانو دَ چارو او کارونو لارښوؤنه کوي
ع مرکزي کمېټۍ دَ مرکزي ورځپاڼو، رسالو او مجلو مديران ګوماري
غ مرکزي کمېټۍ دَ ګوند دَ مالي شتَمنيو څارنه او خسمانه کوي.
ک مرکزي کمېټۍ له نورو ګوندونو او سياسي سازمانو سره دَ اړيکيو په جوړولو کښې دَ ګوند لارښوؤنه کوي
ګ مرکزي کمېټۍ هغه دندې هم ترسره کي چې ملي جرګه يا نورې هسکينې (اعلی) ادارې يې په غاړه وراچوي.
ل مرکزي کمېټۍ يوه ستونزه دَ ګوند مخې ته وړاندي کولای شي
م مرکزي کمېټۍ دَ پېنډو (ګانګرسونو) په ميانه وخت کښې دَ ګوندي سياست په درنو ستونزو باندي دَ ورسې (بحث) او پرېکړو لپاره ټول ګوندي جرګه رابللای شي. کمټۍ به دَ دغسي جرګې بنه پخپله ډاګيزه کوي.

IV ملي ايګزيکټيو کونسل

I قومي ايګزيکټيو کونسل لانديني عهده داران لري:
الف - چيرمين (سروال): (يو)، ب – ډېټي چيرمېن (مرستيا سروال): (دوه)، ج – جنرل سيکرټر (يو)، د – ګوندي سيکرټر (درې) يا تر دغه زيات ، که ملي جرګه يې وَ غواړي، ر – دَ خپراوي سيکرټر (يو)، ز – دَ ماليات سيرکټر (يو)
ملي جرګه دَ قومي ايګزيکټيو کونسل دَ چوڼ په مهال دَ مرستيالو سروالانو مشرتوب (سينياريټي) ډاګيزه کوي، او هم دَ سيکرټرانو مشرتوب (سينياريټي) ډاګيزه کوي.
iii دَ ملي ايګزيکټيو کونسل دَ عهده دارانو وخت درې کاله وي. مګر دَ ملي جرګې دَ غوڅې (قرارداد) په

بنسټ کله هم یو عهده دار لري کېدلای شي.
iv دَ سیاسي زدکړې او روزنې له لومړي پړاو څخه تېر سوي ګوندي غړي پرته دَ ګوند هر غړی دَ قومي ایګزیکټیو کونسل غړی جوړېدلای شي، مګر په دې ګره (شرط) چي هغه دَ ملي جرګې غړی وي.
v ګوندي عهده دار که په یوه سرکاري چوکۍ وَ ګومارل شي نو هغه به پخپله له ګوندي عهدې څخه لرې شوی وَ ګڼل شي.

یو عهده دار پرله پسې دوه ځله په یوې عهدې باندي له ټاکل کېدلو وروسته دربېیم ځل بیا دَ همدغې عهدې لپاره په چوڼ کښې دَ ونډې اخیستلو جوګه به نهٔ وي. مګر ملي جرګه به دغه واک لري چي دَ یوې عهدې لپاره دَ دربېیم ځل یا تر دې هم زیات دَ ګردو غړیو په درو کښې دَ دوؤ (3/2) په ډېري په چوڼ کښې دَ ونډې اخیستلو اجازه ورکړي.
vii قومي ایګزیکټیو کونسل وَ مرکزي کمېټۍته ځواب وایي، دَ ګوند رواني چارې سموي او لارښوونه یې کوي. دَ ګوند دَ هسکینو مځورو ادار دَ پرېکړو کاري بڼه اولارلیکه ډاګیزه کوي او دَ هغو په کار اچول څاري.
V دَ قومي ایګزیکټیو کونسل دَ عهده دارانو واکونه او دندې:
i دَ ګوند سروال (چیرمېن)
الف دَ ګوند سروال، دَ ګوند لارښود دی. هغه دَ ګوند چارې څاري او سمبالوي یې. دَ هغه دنده ده چي ګوند په سمه او اوډلې توګه کار وَ کوي.
ب ملي جرګه، دَ مرکزي کمېټۍ او قومي ایګزیکټیو کونسل غونډې رابولي، دَ هغه لپاره نېټه، ځای او مهال ډاګیزه کوي او دَ هغو دَ مشرۍ دندې ترسره کوي.
ج په بېړنیو اکرونو (حالات) کښې سروال له اړتیا سره سم لګښتونه کولای شي. که کوم لګښت په کلنۍ بودیجې کښې نهٔ وي یا مرکزي کمېټۍ اجازه نهٔ وي ورکړې، دَ هغو اجازه به وروسته اړینه وي.
II دَ ګوند مرستیال سروال
الف که سروال ناسوب (غیرحاضر) وي، نو مشر مرستیال سروال، او که هغه هم ناسوب وي نو مرستیال سروال به دَ ځای ناستي سروال په توګه دندې درسره کوي. او که چیري مرستیال سروال هم نهٔ وي، نو مرکزي کمېټۍ به دَ ځای ناستي سروال ګومارنه کوي، چي پخلی به یې دَ مرکزي کمېټۍ په راتلونکې غونډې کښې اړین وي. ځای ناستی سروال به همهغه واکونه لري چي سروال یې لري.
III جنرل سیکرټر
الف جنرل سیکرټر به دَ ګوند دچلونکی (انتظامي) مشر وي
ب دَ مرکزي دفتر دَ کار څارنه، دَ دفتر ټول ریکارډ، دَ دوسیو او کاغزونو سمه سرېښته او خسمانه او ګردې دفتري چارې په غاړه اخلي.
ج ملي جرګه به دَ مرکزي کمېټۍ او قومي ایګزیکټیو کونسل دَ بشپړې غونډې یادښتونه لیکي او په ګانده (اینده) غونډو کښې به خامخا دَ منلو لپاره وړاندې کوي.
د کلنۍ رپوټ به تیاروي.
ر په ملي او نړیوال سیاسي اکر به بشپړ رپوټ چمتو کوي.
س دَ سروال په لارښؤونه، ملي جرګه دَ مرکزي کمېټۍ او قومي انګزیکټیو کونسل ټولیزه غونډه رابولي. دَ ځانګړو بشپړو غونډو لپاره په دستور کښې دَ ټاکل شویو اکرونو (شرایطو) له پوره کولو وروسته دَ جنرل سیکرټر له منلو پرته هم دَ اړوند اداري ځانګړې بشپړه غونډه رابللای شي.
ش په ټول هیواد کښې په سیخه لاره دَ ګوند دَ بوتللو لپاره تابیا (منصوبه) چمتو کوي او بیا یې دَ منلو لپاره وَ مرکزي کمېټۍ ته وړاندې کوي.
ص څومره شلاوڼ چي راټول شي، هغه وَ مالیات سیکرټر ورکوي.
ض دَ ګوندي کارونو لپاره دَ ګوندي پیسو دَ راتللو او لګښتونو حساب کتاب دَ مرکزي کمېټۍ په غونډه کښې منلو ته وړاندې کوي.
ط په بېړني اکر (حالت) کښې جنرل سیکرټر دَ اړتیا وړ لګښتونو کولو واک لري، کوم هغه چي په کلنۍ بودیجې کښې نهٔ وي او یا یې مرکزي کمېټۍ اجازه نهٔ وي ورکړې. دَ دغسې لګښتونو اجازه وروسته اړینه وي.
IV دَ ګوند سیکرټر
الف که جنرل سیکرټر ناسوب (غیرحاضر) وي نو مشر ګوندي سیکرټر او که هغه هم ناسوب وي نو دؤیم ګوندي سیکرټر به دَ ګوند ځای ناستی جنرل سیکرټر وي او دی ټول هغه واکونه لري چي یو جنرل سیکرټر یې لري.
ب دَ ګوند سیکرټر په ټولو کارونو کښې دَ جنرل سیکرټر مرسته کوي.

ج دَ گوند سیکرټر هغه ټول چارې ترسره کوي چې هغه ته یې مرکزي کمېټې، قومي ایګزیکټیو کونسل، سروال یا جنرل سیکرټر ورکوي.

V دَ مالیاتو سیکرټر

الف مالیات سیکرټر دَ مرکزي کمېټې په لاربښوونه دَ ګوند شلاوڼ په یوهٔ بنک یا کوم بل ځای ږدي، بل دَ سروال یا جنرل سیکرټر په لاربښوونه دَ مرکزي کمېټې له بودیجې سره سم لګښت ګاروي.
ب که پیسې په بنک کښې پرتې وي، نو دَ لګښت لپاره یې دَ سروال یا جنرل سیکرټر په لاسلیک راباسي.
ج دَ سروال یا جنرل سیکرټر له لاربښوونې سره سم دَ ګوند دَ شتمنیو او لګښتونو شمېر ساتي. دَ پیسو برابرولو لپاره بېلابېل وړاندیزونه کوي او بیا یې په کار اچوي.

VI دَ خپراوي سیکرټر

دَ خپراوي سیکرټر دَ ګوند دَ ویاند په توګه، دَ ګونددَ موخو او ارمانو، دَ ګوند دَ ملي جرګې، مرکزي کمېټې او قومي ایګزیکټیو کونسل دَ پرېکړو، غوڅو او بیانونو دَ خپراوي کار پخپله غاړه لري.

VII مرکزي پارلیماني بورډ او دَ هغه واکونه

(۱)
الف دَ ګوند به یو پارلیماني بورډ وي چې دَ غړیو شمېر به یې اؤوه (۷) وي.
ب مرکزي کمېټې به له خپل چوڼ وروسته په درې میاشتو کښې دننه پارلیماني بورډ ټاکي.
ج سروال، مشر سروال او جنر سیکرټر به دَ خپلو عهدو په مټ دَ پارلیماني بورډ غړي وي.
د دَ بورډ کورم به په څلورو غړیو ولاړ وي.
ر بورډ دَ مرکزي، صوبایي یا دستور جوړونکي اسمبلۍ او سېنټ لپاره دَ ګوند غړي نوموي.
ز دَ بورډ دَ پرېکړو په چپه (خلاف) مرکزي ازګزیکټیو کونسل ته اپیل کېدلای شي.
س دَ پارلیماني بورډ کوم غړی دَ اسمبلۍ یا سېنټ یوې چوکۍ ته ولاړ وي ، نو وَ هغه ته دَ ټیکټ ورکولو پرېکړه مرکزي ایګزیکټیو کونسل کوي. که ولاړ کس دَ مرکزي ایګزیکټیو کونسل غړی هم وي،نوبیا هغه دَ مرکزي ایګزیکټیو کونسل په هغې ناستې کښې کښېناستلای نهٔ شي په کومې کښې چې دَ دهٔ دَ نوموني په غوښتنه باندې وراسه (بحث) کېږي.
ش بورډ به دَ پارلیماني چارو څارنه کوي او که ګوند په ځایي چوڼ یا دَ نورو ادارو په چوڼ (انتخابات) کښې دَ برخې اخیستلو پرېکړه وَ کوي، نو هم به یې پارلیماني بورډ څارنه کوي.
ص بورډ دَ ګوند دَ ټیکټ لپاره له امیدوارانو څخه دَ ګوند دَ مرام، برنامې ، دستور، او پرېکړو دَ منلو لوړه اخلي، او که چیرې یو ټاکل شوی غړی دَ ګوند له مرام، برنامې او دستور او پرېکړو څخه سرغړونه وَ کوي نو هغه به دَ ګوند له غړیتوبه او په اسمبلۍ کښې دَ ګوند دَ استازیتوب له حق څخه بې برخې کوي.
ض پارلیماني بورډ به خپلې پرېکړې دَ چوڼ لپاره دَ کاغزونو تر اچولو کم تر کمه درې میاشتې لَمخه ډاګیزه کوي. په ځانګړي اَکر (حالت) کښې پارلیماني بورډ په دغه وخت کښې بدلون کولای شي.
ط دَ بورډ دَ غونډې لپاره نوټس کم ترکمه پینځلس ورځې لَمخه له ځای، نیټې ، وخت او هغه کار چې وراسه (بحث) به ورباندې کیږي، ورکول اړین دي. مګر دَ ځانګړې غونډې لپاره دَ درېیو ورځو نوټس هم ورکولای شي.
ع دَ ترڅ چوڼ (ضمني انتخابات) لپاره به هم پاسنۍ دَ کار لارلیکه وَ کارول شي.
غ پارلیماني بورډ چې کوم امیدوار وَ نوموي، په ټول ګوند دَ هغه ملاتړ ټَپ (لازم) دی.

VIII پارلیماني ګوند

الف کوم غړي چې دَ یوې اسمبلۍ یا سېنټ لپاره دَ ګوند په ټیکټ په چوڼ کښې بریالي شوي وي او یا که دَ یوې اسمبلۍ یا سېنټ کوم غړی وروسته ګوند ته راګډ شي، نو په نوموړې اسمبلۍ یا سېنټ کښې دننه به پارلیماني ګوند جوړ کې او خپل مشر او نور عهده دارن به وَ ټاکي. مګر دَ پارلیماني پارټۍ دَ مشر دَ ټاکنې پخلی له مرکزي کمېټې څخه اخیستل اړین دي.
ب پارلیماني پارټۍ دَ خپلو ټولو کارونو ځواب وَ مرکزي کمېټې او مرکزي بورډ ته وایي.

(۲) دَ ګوند صوبایي سازمان

I دَ ګوند صوبایي غونډه یا دَ ټولو عامو غړیو ناسته په درېیو کلونو کښې یو ځل رابلله کیږي. صوبایي جرګه (صوبایي کونسل) دغه ناسته رابولي. او په ځانګړي اَکر (حالت) کښې تر ټاکلي وخت لَمخه رابلله کېدلای شي او یا ځنډول کېدلای هم شي. په هره بڼه کښې دَ مرکزي کمېټې لَخوا یې پخلی اړین دی.
II صوبایي جرګه، په صوبایي ناسته (کانفرنس) کښې دَ استازیو شمېر، دَ هغوی دَ چوڼ لاره او لیکه او په ناسته کښې دَ کوزنیو سازمانو استازیتوب جوتوي، چې دَ مرکزي کمېټې پخلی ورته اړین دی.
III صوبایي غونډه دَ صوبایي جرګې دَ غړیو شمېر جوتوي او بیا یې چوڼ کوي.
IV دَ صوبایي جرګې دَ صوبایي ایګزیکټیو کونسل به لاندیني عهده داران لري، چې صوبایي جرګه به یې چوڼ کوي:

الف مشر /صدر/: (یو)
ب مرستیال مشر (دوه)
ج صوبايي لومړی سیکرټر (یو)
د صوبايي مرستیا سیکرټر (دوه یا تر دوؤ زیات که صوبايي جرګه وَ غواړي)
ر صوبايي جرګه دَ صوبايي ګوندي کمېټۍ دَ غړیو شمېر ټاکي او دَ هغو چوڼ کوي، چې دَ صوبايي ایګزیکټیو کونسل غړي به دَ خپلې عهدې په مت پکښې وي.

V په کال کښې، دَ صوبايي جرګې کم تر کمه دوه او دَ صوبايي ګوندي کمېټۍ کم تر کمه درې ټولیزې غونډې به کیږي. پردغه سربېره، دَ صوبايي جرګې یا صوبايي کمېټۍ دَ غړیو له څلورو څخه دَ یوې برخې (4/1) په لیکلي غوښتنې به دَ صوبايي جرګې غونډه په پینځلو ورځو کښې او دَ صوبايي کمېټۍ غونډی به په اوؤ ورځو کښې رابللې کیږي.

VI دَ صوبايي جرګې دَ خصوصي غونډې کورم به دَ غړیو له څلورو څخه یوهٔ برخه (4/1) وي.

VII دَ صوبايي کمېټۍ لپاره به کورم دَ غړیو (4/1) وي.

VIII صوبايي جرګه دَ خپلو سوبو (حاضرو) غړیو په ساده ډېري له خپلو غړیو څخه غړیتوب اخیستلای شي.

مګر دَ عهده دارانو او صوبايي کمېټۍ دَ غړیو دَ لرې کولو لپاره دَ دودیزې یا ځانګړې غونډه کورم دَ ټولو غړیو دوه په درې کښې (3/2) وي.

ځانګړې ناسته به کم ترکمه په درېیو کښې دَ یوې برخې غړیو (3/1) په یوې میاشتې کښې دننه دَ یوې اؤنۍ په نوټس راغوښتل کیږي. دَ صوبايي جرګې سوب (حاضر) غړي په ساده ډېري غسي خوځښت مني.

صوبايي مشر او صوبايي لومړی سیکرټر همغه دندې او واکونه لري کوم چې مرکزي سروال او مرکزي جنرل سیکریټر لري.

(۳) په ضلع کښې دَ ګوند سازمان

I دَ ضلعي ګوندي کانفرنس یا دَ عامو غړیو غونډه په دوؤ کلو کښې یوه ځل رابلل کیږي. دَ ضلعي ګوندي کمېټۍ دغه کانفرنس یا غونډه رابولي. په ځانګړي اکر (حالت) کښې نوموړې کمېټۍ یې په ټاکلي وخت رابللای شي او یا یې بل وخت ته ځنډولای شي. په هر ډول چې وي دَ جوختې بالا لاربنودې اداري پخلی ورته اړین دی.

II دَ ضلعي ګوندي کمېټۍ په غونډه کښې دَ استازیو شمېر، دَ چوڼ لارلیکه او په غونډه کښې دَ کوزو سازمانو استازیتوب ډاټاکي. خو دَ ورجوختې بالا مخورې اداري لَخوا یې پخلی اړین دی.

III ضلعي ګوندي غونډه دَ ضلعي دَ ګوندي کمېټۍ دَ غړیو شمېر په ډاګه کوي او چوڼ یې کوي. او په همدې توګه دَ ضلعي دَ ایګزیکټیو کونسل چوڼ هم کوي.

IV دَ ضلعي ګوندي کمېټۍ په یوې میاشتې کښې کمترکمه یوه غونډه کیږي. پردې سربېره، دَ ¼ غړیو په لیکلي غوښتنې به په اوؤ ورځو کښې ځانګړې غونډه رابلل کیږي. دَ کمېټۍ دَ ټولیزې (عمومي) غونډې کورم به ¼ وي.

V دَ ضلعي ګوندي کمېټۍ به یو ایګزیکټیو کونسل وي، چې لاندیني غړي به لري:
الف ضلع ګوندي سیکرټر (یو)، ب: ضلعي مرستیال ګوندي سیکرټر (دوه یا تر دوؤ زیات که دَ ضلعي ګوند یې وَغواړي).

۴ سیمه ایز ګوندي اوډون

I دَ ګوند دَ هرې کچې سیمه ایزه (علاقایي) ګوندي غونډه یا دَ عامو غړیو غونډه په دوؤ کلو کښې رابلل کیږي. دَ اړوندې کچې سیمه ایزه ګوندي کمېټۍ دغه غونډه رابولي. په ځانګړي اکر کښې نوموړې کمېټۍ دغه غونډه تر ټاکلي وخت لَمخه رابللی شي او یا بل وخت ته ځنډولی شي. په هر ډول دَ ورجوختې بالا مخَورې اداري لَخوا یې پخلی اړین دی.

II اړونده ګوندي کمېټۍ په غونډې کښې دَ استازیو شمېر او دَ چوڼ لارلیکه او په غونډه کښې دَ کوزو سازمانواستازیتوب ډاګیزوي، چې دَ ورجوختې بالا مخَورې اداري لَخوا یې پخلی اړین دی.

III دَ هرې کچې سیمه ایز ګوندي کانفرنس یا دَ عامو غړیو غونډه دَ اړونده نوې ګوندي کمېټۍ دَ غړیو شمېر ډاګیزوي او دَ هغو چوڼ کوي. په همدغه توګه دَ اړوند نوي ایګزیکټیو کونسل دَ عهده دارانو چوڼ هم کوي.

IV دَ هرې کچې سیمه ایز ګوندي ایګزیکټیو کونسل به لاندیني غړي وَ لري:
الف ګوندي سیکرټر (یو) ب، مرستیال ګوندي سیکرټر، یو یا تر یوهٔ زیات که کمېټۍ یې وَ غواړي.

V دَ هرې کچې سیمه ایزه ګوندي کمېټۍ به په یوه میاشت کښې کم تر کمه یوه غونډه کوي.
له دې پرته، دَ کمېټۍ دَ ¼ غړیو په لیکلي غوښتنه په یو اونۍ کښې دننه به غونډه رابلل کیږي، چې کورم به یې دَ کمېټۍ له ¼ غړیو څخه جوړ وي.

## ۵ لومړنی ګوندي سازمان

I په دوديزه توګه په هر هغه کلي، چم، کارخانې، کان او نورو صنعتي ادارو يا نورو ادارو او ځايونو کښې چي دَ ګوند دَ غړيو شمېر کم تر کمه لس وي، نو دَ ګوند څانګې به جوړيږي، چي لومړني ګوندي سازمانونه به ورته ويل کيږي.

II که په يوۀ کلي، کارخانې، ادارې يا په دغسي نورو ځايونو کښې دَ ګوندي غړيو شمېر کم وي نو هغوی به واک وَ لري چي دَ ډېري په خوښه دَ يوۀ بل نژدې کلي، کارخانې، ادارې يا نورو ځايونو په لومړني ګوندي سازمان کښې ګډون وَ کوي.

III دَ يوۀ لومړني ګوندي سازمان دَ جوړولو لپاره به دَ اړونده بالا سيمه ايزې کمېټۍ يا که اړينه وه، نو دَ ضلعي، صوبايي ان دَ مرکزي کمېټۍ لَخوا پخلی به اړين وي.

IV لومړني ګوندي سازمانونه دَ ګوند بنسټ دي، چي له کارځايونو او استوګنځايونو سره سم جوړول کيږي.

V په يوې کارخانې يا ادارې او نورو ځايونو کښې يوازې يو لومړنی ګوندي سازمان جوړېدلای شي، چي دَ په اړوند ادارې کښې کارکونکي ټول ګوندي غړي به پکښې ګډون لري. هغه لومړني ګوندي سازمان چي دَ استوګنځای له اړتياوۀ سره سم جوړ کړ شوي وي، دَ ګوند هغه ټول غړي به ګډون پکښې وَ لري چي په اړوندۀ کلي، باندې يا کوڅې کښې اوسي او دَ کارخانې يا ادارې په لومړني سازمان کښې ګډون نۀ لري.

VI

الف دَ لومړني ګوندي سازمان مخَوره اداره دَ ګوندي غړيو ټوليزه (عامه) غونډه ده.
ب که دَ يوۀ لومړني ګوندي سازمان غړي تر ۲۵ کم وي نو دَ لومړني ګوندي سازمان عامو غړيو غونډه دَ ګوند روانو چارو دَ سرېښتې (نظم) لپاره له خپله منځه دَ اړوند سازمان دَ يوۀ ګوندي سيکرټر او يوۀ مرستيال سيکرټر چوڼ کوي، او که يې شمېر تر ۲۵ زيات ۇ نو له يوۀ سيکرټر او يوۀ مرستيال سيکرټر سره سره دَ يوې ګوندي کمېټۍ چوڼ هم کوي. غونډه دَ دغې کمېټۍ دَ غړيو شمېر هم پخپله ټاکيزوي.
ج په لومړني ګوندي سازمان کښې په کال کښې يوه ځل چوڼ کيږي.
د دَ لومړنی ګوندي سازمان په مياشت کښې کم ترکمه يوځل ټوليزه (عامه) غونډه کيږي.
ر لومړنی ګوندي سازمان په سيمه يا اداره کښې همغه واکونه او دندې لري چي نورسيمه ايز سازمانونه يې لري. مګر لومړنی ګوندي سازمان دَ غړی جوړولو واک له لري.

(۶)

I صوبايي جرګه، صوبايي، ضلعي او نورې سيمه ايزې کمېټۍ به دَ ګوندي کارونو دَ ودې او دَ ګوند بالا مخَورو ادارو وَ پرېکړو ته تر خپلو واکونو پوري دَ کاري بنې ورکولو چاره په خپله غاړه وَ لري.

II دَ هرې کچې ګوندي عهده داران تر خپله واکه پوري دَ ګوندبالا مخًورو ادرو وَ پرېکړو ته دَ کاري بنې ورکولو ډولونه او تګلاره ټاکيزوي او کړۀ وړۀ يې سمبالوي. دَ ګوندي روانو چارو سرېښته لاربښؤونه کوي.

III په کومه صوبه، ضلع يا سيمه کښې که لومړنی سازمان يا کوم بل لاندينی سازمان نۀ وي، نو اړونده ګوندي کمېټۍ به دَ غړی جوړوني کار په غاړه لري.

VI دَ صوبې، ضلعې او دَ بلې هرې کچې سيمه ايزه کمېټۍ به په درېيو مياشتو کښې کم ترکمه يو ځل تر ځان پورته نيژدې ترينې مخَورې ادارې ته دَ ګړدو سياسي، اقتصادي يا ګوندي حالاتو رپوټ وړاندي کوي.

V صوبايي کمېټۍ پخپله دَ سوبو(حاضرو) غړيودَ ډېري په خوښه (رايه) وخت ناوخته خپل شمېر، بيا په هغۀ کښې ضلعي استازيتوب او په همدغه کمېټۍ کښې دَ نويو غړيو ګډون او په صوبايي جرګه کښې دَ نويو غړيو ګډون ټاکيزولای شي.

VI ضلعي کمېټۍ پخپله دَ سوبو (حاضرو) غړيو دَ ډېري په خوښه ( رايه) وخته ناوخته خپل شمېر، بيا په هغه کښې دَ لاندينيو سازمانو استازيتوب او په همدغه کمېټۍ کښې دَ نيو غړيو ګډون ټاکيزولای شي.

VII صوبايي، ضلعي او سيمه ايزې کمېټۍ خپل خپل غړي دَ ټولو غړيو په درو کښې دوۀ (3/2) ډېري په خوښه لۀ غړيتوب څخه هيسته کولای شي.

## څلورم څپرکی
## تاديبي کاروايي

I دَ کوند مرام او دستور او دَ ګوند دَ مخَورو ادارو له پرېکړو څخه دَ سرغړونو، ګډوډيو او دَ ګوندي کارونو او دندو وَ سر ته نۀ رسولو له امله دَ لومړنيو ګوندي سازمانونو، ګوندي کمېټيو او مخَورو ادارو له لوري دَ ګوندي غړيو په چپه (خلاف) لاندينۍ تاديبي کاروايی کېدلای شي:
الف - (پوهونه)، ب – (سخته پوهَونه)، ج – (کوزونه)، مانا له ګوندي عهدې څخه هيسته کول، دَجرګې يا کمېټۍ له غړيتوب څخه ايستل يا دَ سياسي زدکړې او روزنې وَ لومړنۍ کچې ته کوزول، د – (ايستنه).

II

الف ملي جرګه او دَ مرکزي کمېټۍ غړي دَ خپلو غړيو په چپه (خلاف) دَ تاديبي کاروايی واک لري.

ب مرکزي کمېټۍ دَ خپلو غړیو، دَ ملي جرګې دَ غړیو، لاندینیو سازمانو او دَ هغو دَ غړیو او عهده دارانو او دَ ګوند دَ یوۀ غړي په چپه (خلاف) تاديبي کاروايي کولای شي.

ج صوبايي جرګه او صوبايي، ضلعي او سیمه ایزی کمېټۍ دَ خپلو غړیو او عهده دارنو او دَ خپلو لاندینیو سازمانو دَ ګوندي کمېټیو دَ غړیو او عهده دارانو دَ خپل اړوند ګوندي سازمان دَ یوۀ ګوندي غړي په چپه تاديبي کاروايي کولای شي.

د لومړنی ګوندي سازمان دَ خپلو غړیو او دَ خپلې کمېټۍ دَ غړیو او عهده دارانو په چپه تاديبي کاروايي کولای شي.

III

الف دَ ملي جرګې، مرکزي کمېټۍ، صوبايي جرګې، صوبايي، ضلعي او سیمه ایزو کمېټیو دَ غړیو او عهده دارانو په چپه به تاديبي کاروايي دَ اړوندې جرګې یا کمېټۍ دَ سوبو (حاضرو) غړیو دَ دېرې په خوښه کیږي.
مګر دَ کوزونې (تنزلي) او له ګوند څخه دَ ایستلې پرېکړه به دَ اړونده جرګې یا کمېټۍ دَ سوبو (حاضرو) غړیو په درو کښې دوه (۳/۲) دېري په خوښه کیږي.

ب لومړنی ګوندي سازمان دَ خپلو غړیو په چپه تاديبي کاروايي په خپلې تولیزې (عمومي) غونډې کښې دَ سوبو (حاضر) غړیو دَ دېري په خوښه کوي. مګر دَ کوزونې او له ګوند څخه دَ ایستنې پرېکړه دَ لومړني ګوندي سازمان دَ تولیزې غونډې دَ سوبو غړیو دَ دوۀ په درې کښې دېري په خوښه کیږي. وروسته یې دَ ور نیژدې بالا سیمه ایزې کمېټۍ لَخوا پخلی اړین دی.

IV دَ ګوند سروال (چیرمېن)، صوبايي مشر (صدر) او دَ بلې هرې کچې سیکرټر دَ سختې اړتیا په مهال دَ اړوند کچې دَ سازمان دَ جرګې یا کمېټۍ دَ غړیو او عهده دارانو، دَ خپلو لاندینیو سازمانو او دَ هغو دَ کمېټیو دَ غړیو او عهده دارانو او دَ اړوندې کچې دَ سازمان دَ غړیو په چپه تاديبي کاروايي کولای شي، چې وروسته به یې په راتلونکو غونډو کښې دَ ګوند سروال (چیرمېن) له مرکزي کمېټۍ څخه، صوبايي مشر له صوبايي کمېټۍ څخه او یو ګوندي سیکرټر به یې له اړونده ګوندي کمېټۍ څخه پخلی اخلي.
که یو لومړنی ګوندي سازمان ګوندي کمېټۍ نۀ لري نو دَ اړوند ګوندي سازمان سیکرټر به یې پخلی دَ اړوند سازمان له تولیزې غونډې څخه اخلي.

V

الف دَ یوۀ ګوندي سازمان لَخوا دَ شوې تاديبي کاروايۍ په چپه لومړنی اپیل به وَ نیژدې بالاګوندي کمېټۍ ته، او دَ همدغه اپیل پرېکړې په چپه به دویم اپیل وَ نیژدې بالا ګوندي سازمان کمېټۍ ته کیږي، دَ دغه دویم اپیل په چپه به بل کوم اپیل نۀ شي کېدلای.

ب دَ یوې تاديبي کاروايۍ دَ اپیل په هکله دَ مرکزي کمېټۍ لَخوا دَ شوې پرېکړې په چپه بل کوم اپیل نۀ شي کېدلای.

ج دَ یوۀ سیکرټر یا مشر (صدر) لَخوا چې دَ تاديبي کاروايۍ پخلی شوی وي دَ هغه په چپه یوازې نیژدې ترین بالاګوندي سازمان کمېټۍ ته اپیل کېدلای شي. دَ دغې تاديبي کاروايۍ دَ نۀ پخلي په چپه هم یوازې یو اپیل وَ نیژدې ترین ګوندي سازمان کمېټۍ ته کېدلای شي.

د دَ سروال (چیرمین) لَخوا دَ تاديبي کاروايۍ دَ پخلي یا نۀ پخلي به په مرکزي کمېټۍ کښې هیڅ اپیل نۀ شي کېدلای.

ر اپیل دَ تاديبي کاروايۍ یا دَ هغې دَ پخلي په دوۀ میاښتو کښې دننه کېدلای شي. دَ لومړني ګوندي سازمان تولیزه غونډه یا یوه کمېټۍ دَ پخلي پرېکړه دَ تولیزې غونډې دَ سوبو (حاضرو) غړیو دَ دېري په خوښه کوي.

ز هره کمېټۍ په اپیل باندي په خپلې تولیزې غونډې کښې دَ سوبو غړیو دَ دېري په خوښه پرېکړه کوي.

VI هغه غړی چې تر سیاسي زدکړې او روزنې تېریږي کله چې پرته له کومې ریښتوني سوبه پرله پسې شپږ ځله او نور غړي پرله پسې درې ځله دَ ګوند په غونډو کښې ګډون وَ نۀ کي نو اړوندۀ ګوندي سازمان یا اړونده ګوندي کمېټۍ ته پکار ده چې دَ هغه په دغه کار په راتلونکې غونډه کښې وَ رغیږي او دَ هغه په هکله له ګوند څخه دَ ایستنې په ګډون هره پریکړې چې وي، وَ یې کوي.

VII که یو ګوندي غړی دَ یوۀ لامل په بنسټ دَ ګوند له غړیتوب څخه استعفا وَ کي نو هغه ته پکار ده چې خپله استعفا وَ اړوند ګوندي سازمان ته په لیکلې بڼه وړاندي کي او خپله ګوندي پاڼه (کارډ) دَ لومړني ګوندي سازمان وَ سیکرټر ته وسپاري.
که دَ ګوند دغه غړي دَ ګوند له دستور یا سریښتې (ډسپلن) څخه سرغړونه کړې وي یا دَ تاديبي کاروايۍ وړ کوم کار یې کړی وي نو په دغسې اکر کښې ګوندي سازمان دَ هغه استعفا نامنلې بللای شي او دَ هغه دَ ایستلو پرېکړه کولای شي.

دَ ګوندي غړي له ګوند څخه دَ استعفا په هکله دَ لومړني ګوندي سازمان دَ تولیزې غونډې دَ پرېکړې پخلی به سیمه ایزه، ضلعي او په پای کښې صوبايي ګوندي کمېټۍ یا دَ ګوند هغه اداره کوي چې دَ مرکزي کمېټۍ لَخوا په دغه اړوند جوړه کړ شوې وي.

پینځم څپرکی

(۱) چوڼ کمیشن

I ملي جرګه دَ ګوندي چوڼ لپاره یو چوڼ کمیشن ټاکي چي دَ مرکزي او صوبایي ګوندي چوڼ څارنه کوي. دَ دغه کمیشن به پینځه غړي وي.

چوڼ کمیشن دَ ګوند له ملي پېنډې (کانګرس) څخه دَ چوڼ دَ تګلارې منظوري اخلي او له هغې سره سم دَ ملي جرګې، مرکزي کمېټې او مرکزي ایګزیکټیو کونسل چوڼ کوي. په همدغه توګه له صوبایي جرګې څخه دَ چوڼ دَ تګلارې منظوري اخلي او دَ صوبایي جرګې او صوبایي ایګزیکټیو کونسل چوڼ کوي. صوبایي جرګه ضلعې او نورو ضلعي ادارو دَ لپاره انتخابي کمیشن ګوماري چي له پاسنۍ تګلارې سره سم دَ خپلو کوزنیو ادارو چوڼ کوي. دَ ملي چوڼ کمیشن او صوبایي چوڼ کمیشن دَ پرېکړو په چپه به اپیل مرکزي کمېټې ته کیږي، او دَ ضلعې او نورو کوزنیو ادارو دَ چوڼ کمیشن دَ پرېکړو په چپه اپیل به وَ صوبایي کمېټې ته کیږي.

(۲) ټولنیز سازمانونه

I ګوند به دَ مزدورانو، بزګرانو، کسانانو او نور زیارکښانو، اولسواکو روڼ اندو او شاګردانو، اولسواکه مېرمنو، اولسواکو سوداګرو او دَ هر ډول هیواد پالو اولسواکو ځواکونو ټولنیز سازمانونه جوړوي.

II په دغسي سازمانو کښې ګډون لرونکي ګوندي غړي به دَ ډله ایزکار په مټ دَ خپل ګوند تګلاره په اغېزناکه توګه سر ته رسولو لپاره هلې ځلې کوي.

III دغسي ډلې به دَ ځایي ګوند په اوډون او سرېښتې کښې دننه وي.

۳ دَ ګوند مالي چارې

دَ ګوند لګښتونه دَ ګوند دَ چاپَونو او خپرونو له پلورنې او دَ ګوندي غړیو او نورو هیوادپالو او السواکۍ پلَوُ کسانو دَ شلاوڼ (چندې) په مټ پوره کول کیږي.